# داځرنګه وجدان دی

داځرنګه وجدان دی چی غل غواړی پیشوا شی
قاتل د افغانانو حاکم پر خلکو همدا شی
هغه چی تر پرونه راکټ پر ښار ویشتل
دغرو د پاسه خلک ته د مرګ قاصد لیږل
مکتب او تعمیرونه په سره اور سوځول
غلیم چی څه ویل ورته د هغه په خوله کول
هغه سره نه مینه د خلک نه د وطن وه
چوپړ او لاس پوڅی د پردی او د د ښمن وه
غلیم ته پر وطن د یرغل بلنه ورکړ
پردو ته د وطن د اسرار کتنه ورکړ
پردو سره لاس یو کړ غوبل پرخلکو جوړکړ
هستی دخلکو لوټ کړثروت باندی ځان موړکړ
سر کوز نکړ ګریوان ته دا غل دا بی حیا
جاسوس د اخوندانو چوپړ د امریکا
ځان پوه که جاسوسه نن خلک ټول پوهیږی
د ستا په چلوټو نور خلک نه غولیږی
د بخت لمر دی اوس ډیرچټک په کوزیدو دی
د ستا د استبداد کمپل په ټولیدو دی
پښتون تاجک اذبک تړون سره ټول کړی
قومونه او اولسونه ګډون سره ټول کړی
تا سپاری دعدل د خلک ستر محکمی ته
ټول باسی انتظار د داور غوڅ فیصلی ته
ثروت چی دی لوټ کړی له تا اخیستل کیږی
د ستا جنایتونه یو یو ټول سجل کیږی
هغه وخت به شي پوه چی دخلکو زور څه دی
د خلکو نیتونه خپل خلکو ته ښکاره دي
له شره به دی خلاص شی قومونه او اولسونه
هغه وخت به قبول شی د«مل» ټول سوالونه